السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# لدې پلیټ (زنا) څخه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړې ده، نو څوک چې پکې ښکېل شو د الله په پرده دې ځان وپوښي او الله تعالی ته دې توبه وکړي، ځکه څوک چې موږ ته ځان (وښايي، موږ پرې د الله تعالی د کتاب حکم جاري کوو

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله أسلمي سنګسار کړ ودرېد او ویې فرمایل: (لدې پلیټ (زنا) څخه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړې ده، نو څوک چې پکې ښکېل شو د الله په پرده دې ځان وپوښي او الله تعالی ته دې توبه وکړي، ځکه څوک چې موږ ته ځان وښايي، موږ پرې د الله تعالی د کتاب حکم جاري کوو).

[صحيح دی] [الحاکم او البیهقي روايت کړی دی]

ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماعز بن مالک الأسلمي رضي الله عنه له سنګسارولو وروسته ودرېد، خلکو ته يې خطبه ورکړه او ویې فرمایل: لدې او هرې پلیتې ګناه چې الله تعالی ترې منع فرمایلې ده ځان وساتئ، او له چا چې کومه ګناه وشوه، یا یو څه پکې ښکېل شو نو دوه کارونه پرې واجب دي: لومړی: چې د ځان پرده وکړي، ځکه الله تعالی يې پرده وکړه، او هېڅوک دې په خپله ګناه نه خبروي. دويم: الله تعالی ته دې په توبې ويستلو بېړه وکړي او په ګناه دې اصرار نه کوي، او موږ ته چې د چا ګناه ښکاره شوه، موږ پرې حد جاري کوو، کوم چې د الله په کتاب کې د نومړې ګناه لپاره ذکر شوې ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58240

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee